UN WOMEN | United Nations Assistance Mission in Afghanistan

**PRESS STATEMENT**

25 November 2024
Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

**د ۱۶ ورځو فعالیت: د بیجینګ +۳۰ په لور: د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره سره متحد شئ.**

د ۲۰۲۴ کال د نومبر ۲۵مه ـ د یوناما او دملګروملتونو د ښځو چارو اداري ګډه اعلامیه

په افغانستان کې ملګري ملتونه د دغه هېواد له حاکمو چارواکو غواړي چې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره چټک اقدامات ترسره کړي، تر څو دهغو کړنو مخه ونیول شي چې د ښځو حقونو او د هغوی بنسټیزو ازادیو ته سیستماتیک زیان اړوي.

دا غوښتنه په داسې حال کې شوې چې په ټوله نړۍ کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیواله ورځ نمانځل کیږي او د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي پر وړاندې د مبارزې ۱۶ ورځنی کمپاین پیل شوی دی. دا کمپاین د نوامبر پر ۲۵مه چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو نړیواله ورځ ده، پیل کیږي اود ډسمبر پر لسمه چې د بشري حقونو ورځ ده، پای ته رسیږي. د سږ کال کمپاین په داسې حال کې پیل کیږي چې د بیجینګ د عمل لپاره د اقدام سند (۱۹۹۵) ۳۰ کلونه پوره کیږي او دا سند د جنسیت د برابرۍ لپاره د ملګرو ملتونو د لارې ټاکل شوې نقشه ده.

افغانستان لا هم د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی لوړه کچه لري، چې د ژوند په ټولو برخو کې د ښځو پر وړاندې د روان تبعیض له امله دغه تاوتریخوالی لا پسې زیات شوی دی. په هیواد کې د جنسیتي مساواتو جوړښت له منځه تللو سره، د هغو ښځو لپاره چې تاوتریخوالی یې تجربه کړی، هراړخیز او باکیفیته خدماتو ته لاسرسی په ژوره توګه اغیزمن شوی دی. په داسې حال کې، چې دې خدماتو ته اړتیا لا زیاته شوې ده.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې روزا اوتنبایوا وویل: "موږ د افغانستان د ښځو او نجونو لپاره په یوه حساس پړاو کې یو. موږ په افغانستان کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسولو لپاره د عدالت رامنځ ته کولو په موخه بیړنیو اقداماتو ته اړتیا لرو".

د دې سترو ننګونو پر وړاندې، افغان میرمنې د وقار او ازادۍ تر لاسه کولو لپاره په مبارزه کې له خپله ځانه زړورتیا څرګندوي. په ټول هیواد کې د ښځو چارو موسسې دهغو ښځو لپاره چې تاوتریخوالی یې تجربه کړي اړینې مرستې برابروي، پداسې حال کې چې د ټولنې خلک او مذهبي مشران زیان رسوونکي ټولنیز عنعنات ننګوي. د لوړې کچې محدودیتونو سره سره، نارینه او هلکان په خپلو کورنیو او ټولنو کې د ښځو د ملاتړ لپاره په چټکۍ سره مخ پر وړاندې روان دي.

په افغانستان کې د ښځو چارو لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې الیسون ډیویډیان وویل: " دا حقیقت چې افغان میرمنې او نجونې نن ورځ د تیرو نسلونو په پرتله لږ حقونه لري، د دوی د مبارزې یو تریخ حقیقت دی او نړیواله ټولنه اړباسي چې له دوی سره د دریدو لپاره خپلې هڅې دوه برابره کړي تر څو د دوی پر مقاومت، مشرتابه او ځواکمنتیا پانګونه وکړي.

د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی د افغانستان په ګډون د نړۍ په هیڅ ګوټ کې توجیه نه لري. په افغانستان کې ملګري ملتونه د هغو ښځو او نجونو اړتیاوو ته د رسیدنې په برخه کې چې تاوتریخوالی یې تجربه کړی، د دوی د غږ پورته کولو او همدارنګه د  هغوی له حقونو څخه د دفاع په برخه کې پرخپلو ژمنو ټینګار کوي.

د خدماتو وړاندې کوونکو او د ښځو چارو له سازمانونو سره د مستقیم ملاتړ، د مخنیوي پروګرامونو، او همدارنګه له ملي او نړیوالو شریکانو سره د ښکیلتیا له لارې، موږ د ښځو او نجونو پر وړاندې د هر ډول تاوتریخوالی څخه د پاک راتلونکي جوړولو لپاره کار کوو.